**ليکونکی:** تا م ګالا ګر (Tom Gallagher) .

**منبع او دخپريدو نيټه :** کمان ډريم «2018-05-24» .

**ژباړونکی :** پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# دافغانستان جنګ اودکا ليفورنيا په سنا کی سيا لی «مسابقات»

*The Afghanistan war and the California senate Race*



***کيون ديليون «Kevin DeLeon» ادعا کوی چی نن په افغانستان کی جنګ اوجګړی کول يوډير نا وړي ايده اوتصور دی کوم چی داسی يو وخت دی چي پر هغه با ندي هيڅوک خبری نه کوی ( د Kevin DeLeon انځور) .***

مونږ اوس اولس کا له کيږی چی په افغا نستا ن کی يا ستو او جګړی کوو کوم چي په دغه روانه جګړه کی مونږ تر ا وسه پوری له يو تريليون دا لر څخه زيا ت پيسی په مصرف رسولی دي دا ډول رايي دبشری ژوند دريښتنی عواقبو او هم زمونږ دبودجی دپا ره ريښتينی پا يلی لری.

د کا ليفورنيا د سنا د جلسی ريس ښاغلي **( کين ديليون)** د فبروری په ميا شت کی د دموکرات په کنوانسيون کی پخپل پرانيستی خبروکی د ا مريکی د متحده ايالاتودسنا

د مجلس پر سنا تور آغلی **دیا نفینشتا ین** (Dian Feinstein) با ندی کوم چي هغی دعراق دجګړی اودجنګ په کید وبا ندي خپل رایی کاره ولی وه نیوکی وکړ.دلته باید په ډاګه وویل شی چی دا د تعجب اویا دحیرانتیا کومه خبره نه دي کوم چي هغه یعنی **( کین دیلیون)** هیله مند دی چی غواړی دامریکی دمتحده ایالاتودسنا د مجلس یو نامتو اوپیاوړی سنا تور چی د عراق دجګړی په ګټه خپل رایی یی کاره ولی وه یوی غاړی ته پریږدی او خپل پام دجمهوری ریاست دتولټاکنی اکثرو نومانو (کاندیاتورانو) خواته چي دعراق د جګړي مخا لفو پلویا نو ته خپل رایي ور کارولی اړوی اوبیا په ځانګړی توګه سره د**«بارک اوباما»** اود **برنی سند رز**(Bernie Sanders) په انتخا با تی مبارزاتو کی د **هیلاری کلنتون** پرضد . اما کله چی **« کین د یلیون »** د ا پریل په میا شت کی د **سا نفرانسیسکو کرونیکل** (د کا لیفورنیا د شما ل ډیر لوی او مشهور ورځپا نی دي ) د ورځپا نی د مسول هییت سره لید نه وکړ نو هغه ټول شیا ن یو ګام مخکی واچول اود نوموړی ورځپا نی د بورد یا د تحریر له هییت سره په خبرو کي یاده کړ چي زه نه یواځی داچي دعراق د جنګ په مخا لفت خپل رایی کاروم بلکه دافغانستان دجګړی پر ضد هم خپل رایی ورکوم – سره دهغی چی د کرونیکل ورځپا نی یواځی دښار دراسته اړخ واقعات او پیښی پخپل نشراتو کی خپره وي یا تر پوشش لاندی راولی. ا و د هری ورځی په تیرید و سره آغلی سنا تور **داین فیینسشتا ین** تا ید وی. نو په دی توګه سره د **«کین دیلیون»** وینا اویا دهغه نظر دښا ر اودهغه ولایت اوهمداشان د هیواد په نورو برخوکی دخلکو تر پوره پا ملرنی لاندی راغی .

ځنی ددی خلکو ممکن پر یو نوما ند باندي د تمسخر په بڼه داسي ادعا وکړی چي په کال (۲۰۰۱) کی کله چی تا دسناتوری دنده پرمخه وړل نوتا سی پر افغا نستا ن با ندی تیری اویرغل وغند ل او په ډاګه دی وویل چي دا ډ یر یو نا وړی او کرغیړن کړنه او تصور دی. اما له هرڅه نه کوم چی دلته ډیر مهم دی هغه دادي چی **«کین د یلیون»** ادعاکوی چي نن دافغا نستا ن جنګ ډیر یو ناوړی جنګ دی اوهیڅوک دهغه د پا یلی په مورد کی خبری ا تری نه کوی ، نوراځی چي په یاد کی ولرو اوهغه داچي حتی **( برنی سندرز)**کوم چی هغه په امریکی کی د ریښتیا وینی یوه نوی فصل پرانیستل اود هیلاری کلنتون سره دخپل انتخابات مبا رزی په موده کی د ا مریکی د متحده ایالاتو د با ند نی سیا ست په اړین په هراړخیزه بڼی سره ځنی حقایق او واقیعتونو بیا ن کړ اما له بده مرغه چی دا فغا نستا ن ددغه نا معلوم جنګ په اړه پخبل انتخا با تی مبارزه کی یوجمله اویا یوه ټکي هم ونه ویل .

په پای کي یواځی هغه ډیر مهم بحث چی نن ورځ دافغانستان دجګړی په اړه ډیرمهم بلل کیږی کوم چی باید وربا ندی بحث وشي هغه دا دی چي آیا هغه څه چي امریکا وایي نو کولای شی چی دهغه مسلی یا موضوع د پلی کولو دپاره سر له سبا هغه تعقیب

کړی . البته بی له کوم تردید دواقیعتونو په وړاندی موافقه کول یا استدلال راوړل آسا نه برییښی خو مګر ښاغلی( **کین دیلیون**) ددی موضوع دزیات اعتبار دتر لاسه کولو د پاره خپل ځان مستحق ګنی کوم چي شاید یوشمیر نورو همه دهغه سره په دی برخه کی هم نظره وی . هغه یعنی (**کین دیلیون**) د ملتونو (Nation magazine) مجلی ته داسی وویل ، مونږ اوس «اولس» کاله کیږی چي په افغا نستا ن کی یا ستو اوپه دی جګړه کی مونږ تر یوتریلیون ډالر په مصرف رسولی دی چي دا ډول رایي دبشر ژوند او همداراز زمونږ دبودجی دپاره رییښتینی پایلی لری کوم چي په دی پیسو سره مونږ کولای شو چي د تعلیم ، روزنی ، زیربنایی جوړښتونو ، لوی لارو ، روغتیاوی چارو دانرژی دکافی مقدار دتر لاسه کولو دپاره پانګونه کړی وایی یا داچی د پرکنسون (perkinsons) اود الزهایمر (Alzheimers) ناروغی د درملنی دپاره مو کاره ولی وایی .

په هرصورت زه د ا فغا نستا ن ددی روا نی جګړی په اړین دامریکی د متحده ایالاتو د جمهوری ریاست دټولټاکني په نوما نو اویا کا ند ید ا نو با ندی ډیر سخت نه نیسم چی هغوی ددی سزاوار نه دی چی دافغانستان دجګړی په مورد څه اند بیښه لری اویا که نه لری . خو اساسی مطلب دادی چی د(سی ان ان ) خبری شبکه په کا ل (۲۰۱۳) کی یو راپور خپور کړ چي په هغه راپور کی داسی څرګند شوی چی دافغانستان دجګړی د ملاتړ کونکو په اندازه او فیصدی کی تر (۲۰) سلنه ټیټوالی راغلی دی اود همدی شبکی دراپور له مخی دا سی په ګوته شوی دی چی د افغا نستان دجنګ دملاتړ کونکو فیصدی لا پسی د ټیټید و په طرف روانه دی . همدا شان د (CNN/ORC) خبری شبکی ددوشنبی په ورځ اعلام وکړل چي اکثر امریکا یا ن مایل دی اویا غواړی چی دامریکی نظا می قوتونه د دسمبر د میاشتی دهغه تعین کړی شوی مها ل یا وخت څخه با ید مخکی له افغا نستا ن څخه وویستل شی یعنی مخکی دکا ل (۲۰۱۴) څخه. اما په یاد وسا تی چی نوموړی ټاکل شوی مها ل چی کا ل (۲۰۱۴) وه دامریکی د نظا می لوړ پوړو مسولینو **اوباما** ته د ا فغا نستان د جګړی په اړه د یولړ اطلاعا تو په ورکولو سره نا راحته کړ او هغه ته تشویش پیداکړ اوهغه داچي جمهور ریس ومنل چی تقریباً هیڅوک دفدرال په اداره کی داجراتو اودټا کلی اقداما تو په حال کی نه لیدل کیږی .

اودا په دی معنی نه دی چی جنګی هڅی او اند په ښه شان سره نه تر سره کیږی ، فقط په دغه اونی کی د پنتا ګون څارګر (با زرسا ن) خپل میا شتنی راپورکنګره ، د با ند نیو چا رو وزارت اودامریکی د متحده ایالاتو د بین المللی پراختیا آژانس ته وړاندی کړ او داسی یی په داګه کړچی دا فغا نستا ن دروانی جګړی په اړه اوس ډیری خلکو پوره معلوما ت په لاس کي سره لری اوهغه داچی پرطالبانو با ندی دفشار دزیاتوالی په نتیجه کی ددی خطر لیدل کیږی یا ددی خطر شته چی دغیرنظا میا نو د مړنی په ګراف کی لوړوالی راشی او همدارنګه له خشونته ډک هغه برنامه چی دامریکی دماهرانو پواسطه

سره دامریکی په د ننه کی د ا فغا نستا ن  دروان مخالفتونواودجګړی په اړین جوړ شوی دی  هغه برنامه دی کوم چی دهغه په تطبیق سره به  په افغانستان کی  داخلی حملی به زیاته کړی اوهم دهغی سره جوخته د تلفاتو شمیر به لاپسی زیات شی  اوهم د مخا لفینو حملی به دافغان په امنیتی مسولینو باندی زیات شی .

دا لاتراوسه پوری دجګړی د ټولومخا لفینود پا ره غیر ممکن اویا داچی ثابته شوی نه دی چې په واقعی توګه سره  داجګړه ودرول شی  یعنی چی دی  جګړی ته د پای  ټکی کیږدی. نو دهمدی دلیل پر بنیاد دکالیفورنیا ددموکراتانو کنوانسیون دیو پلټ فورم په ترڅ کی  ددی غوښتنی وکړل چی په افغانستان کی باید هوایی حملی بندی شی ،دامریکی ټول نظامیان ، سرتیری او نظامی پیمانکاران زر تزره له افغانستان څخه وویستل شی او هغه ټول مادی اوما لی سرچینی چی د دغه جګړی ما لی لګښت  برابروی زر تر زره وتړل شی یوائې یو مقدار پیسی  د امریکا د نظا می  قوتونو  له  ا فغا نستا ن  څخه  د اخراج اود راوتلو د پا ره چی لګښت ته ضرورت لری  ځا نګړی شی اوبس. نو کله چی دا پلټ فورم نوموړی کنوانسیون ته وړاندی شو ،چندان پیچلی موضوع نه وه چی دکنوانسیون له خوا ردشی بلکه نوموړی کنوانسیون خپل ملاتړ له هغه پلټ فورم څخه اعلان کړاو وویل چی هیح لازم نه دی چی دغه (۱۷ ) کلن جګړی ته دوام ورکړ شی کوم چی دهغه له امله بی وزلی  را مینځته کیږی او زیا ت پیسی  هدر کیږی یا په اوبو کی لاهو  کیږی  بی له دی چی کومه ګټه ورکړی.

بنا پردی دلته د(کین دیلیون) دافغانستان دجګړی دختمولوپه اړین چی دسنا دکمپین په موده کی  ترسره کول دهغه په دی غوښتنو کی دا سی کوم  عجیب  اوغریب  نا شناخته اویا اضافی شی  نه ترسترګو کیده ، اما هغه یوائنی عجیب اوغریب شی چی دسړی پام ځانته اړوی هغه سیاسی  فضا  او  چلن دی کوم چی  دسنا دپاره نوماند د خپلو خبرو په ترڅ کی  دهغه فلم څخه یادونه  وکړ چی فیل په یوه کوټه  کی را ایسار کړی  شوی وه اوویل چی دافغانستان جنګ داسی یوجنګ دی کوم چی مونږ په احتمالی بڼی سره دسبا دپار مبارزه کوو ؟اوداځکه چی مونږ پرون   اودهغی څخه  مخکی بل پرون اوبیاهم لا بل پرون وجنګید لو اودغه ډول جنګ مو له کا ل ( 2001) څخه بیل کړی دي .

***کین دیلیون*** ددموکراتانو  په ایالتی کنوانسیون کی دیر ښه وځلیدل یعنی  ډیر ښه کړنی تر سره کړ کوم چی دهغه په ترڅ کی (60) سلنه چي دوړلو معیار ټاکل شوی وه  د سنا تور ***فینشتا ین*** سره په سیا لی کی (37-54) سلنه رایی ترلاسه کړ یعنی ***(کین دیلیون*** د (60) سلنه څخه (54) سلنه او سنا تور ***داین فینشتاین***  له (60) سلنه  څخه (37)  سلنه رایی وګټل . اما دملاحظی وړ لمړنی بریا دجون په پنځمه تاریخ کی یو څه سخت راښکا ری اوداځکه چي سناتور ***داین فینسشتاین*** یو ډیر مشهوره اوپیژندل شوی سنا تور دی اوهغی د کال (1992) څخه را هیسی په همدی سناتوری مقام کی پا تی شوی دی  دغه سناتور

په نظر سنجي کی د پا م یو ورې نقش ولوبول او د بلی خوا څخه هغی د پیسو په راټولو کی ډیر ستر مهارت لری کوم چِي هغی د ما رچ له(31) څخه هرکا ل تر (10,4) ملیون دالرراټول کړي او همدارنګه هغه تقریباً (672000) دالر په نقد ینه توګه سره ترلاسه کړی او د خپل د سنا مجلس ته دبیا غړیتوب دپاره د ا نتخا با تی مبارزی دترسره کولو په منظور (پنځه ) میلیونه ډالر دپور په شکل لاسته راوړی دي. سره ددی ټولو توضیحاتو بیاهم دلته هیله موجود دی او هغه داچي که چیری (کین دیلیون) وشی کړی چي ټول ناپيژند ل شوی جمهوریخواه سناتوران همدی ډول مسابقی ته را وکاږی- ښه به وي ، اوداځکه چي دکالیفرنیا دوه ډوله لمړنی پرانیستي سیستم په نظر کی نیولو سره ددی امکان شته دی چي دوه دموکراتا نو ته به اجا زه ورکړی چی د نومبرد میا شت په اخرنی ټول ټاکنوکی مخکی شي یعنی د نوی سنا تورانو په حیثٍ وټا کل شي که چیری هغه وخت پوری رای ورکونکو په سپینه ما نۍ کی دښاغلی **ترومپ** روان مداری ګړی یا دلقک با زی ته پام واړوی لکه هغسی چي وایی :مونږ د ټل د پاره به جنګ پای ته رسوو.

-------------------------------------------- **په سلامونو** (2018-05-30)